بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآلونو څانګه**

تاریخ: ۲۵- ذوالحجة الحرام - ۱٤٤٥ هق
مصادف: ۱۲- سرطان- ۱٤۰۳ هش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☑ معلوماتي ☐ تعقیبي ☐ سایر ☐

**متحدالمآل نمبر: ۴۴**

---

**د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**

وبعد: د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۳۹) مورخ ۱٤٤٤/٦/۱۲ هـ ق په تعقیب احتراماً لیکو:

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۱۵٦۸) مورخ ۱٤٤٥/۳/۲۲ هـ ق په توسط د تېرې ادارې د فیصلو د بیا څېړلو اختصاصي محکمې د اصلاح شوې کړنلارې د فقهي تخریج په اړه هدایت کړی وو، د یاد هدایت مطابق ذکر شوې کړنلاره د فقهي تخریج وروسته د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندې شوه، محترم عالي مقام یې په اړه د حکم نمبر (۵۷۸۲) مورخ ۱٤٤٥/۱۱/۲٦هـ ق په توسط داسې هدایت کړی دی:

"وکتل سو!

د تېرې ادارې د محاکمو د فیصلو د بیا څېړلو کړنلاره په لسو مادو کې توشیح او د انفاذ وړ ده."

یاده موضوع د سترې محکمې محترم مقام ته پیشنهاد شوه په اړه یې د حکم مورخ ۱٤٤٥/۱۲/۲٤ هـ ق په اساس داسې هدایت وکړ: "د تېرې ادارې د محاکمو د فیصلو د بیا څېړلو کړنلاره چې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۵۷۸۲) مورخ ۱٤٤٥/۱۱/۲٦هـ ق په توسط په لسو مادو کې توشیح او د انفاذ وړ بلل شوې، په متحدالمآل شکل دې ټولو محکمو ته واستول شي."

بناءً یاده کړنلاره ددې متحدالمآل مل په (۵) ورقو کې د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شوه.

والسلام

مفتي عبدالرشید "سعید"

**د سترې محکمې**

**د دارالانشاء عمومي رئیس**


Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202300092
Post box: 1989
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

آدرس: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
د اړیکې شمېره: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس: ۱۹۸۹
بریښنالیک: darulinsha@gmail.com
ویب پاڼه: www.supremecourt.gov.af

# د تيري اداري د محاکمو د فيصلو د بيا څېړلو

# کړنلاره

**الحمدلاهله والصلاة على اهلها امابعد:**

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (٤٣٥٧) مورخ ١٤٤٤/١٢/١٥هـق مصادف ١٤٠٢/٤/١٢هـش سلسلتاً رارسيدلی او ستري محکمې ته داسي هدايت شوی دی: (د تيري ادارې د محاکمو د فيصلو د بيا څېړلو تعديل شوې کړنلاره او د هغې په اړه د جنوب لويدځ زون د تميز عالي رياست او د ستري محکمې د دارالافتاء لوی رياست نظرونه ددې مکتوب ضميمه تاسو ته درولېږل شول، د فقهي کتابونو د عباراتو په نظر کې نيولو سره که بيا هم اصلاحاتو ته ضرورت وي نو د عباراتو په رڼا کې دې اصلاحات ترسره شي او همدارنګه کوم اداري اصلاحات چې په کړنلاره کې په ګوته شوي هغه دې هم ستاسو (ستري محکمې محترم سرپرست) تر تائيد وروسته ځای پر ځای شي، وروسته دې ياده کړنلاره موږ ته راولېږئ.)

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د ياد هدايت مطابق، د تيري ادارې د محاکمو د فيصلو د بيا څېړلو تعديل شوې کړنلارې په اړه د ستري محکمې د شيوخ عظامو او علماء کرامو ملاحظات، د جنوب غرب زون د تميز عالي رياست ملاحظات، د ستري محکمې د دارالافتاء لوی رياست ملاحظات د فقهي کتابونو د عباراتو په نظر کې نيولو سره د ستري محکمې د محترم مقام تر تائيد وروسته په ياه کړنلاره کې ځای پر ځای شوه او **(د تيري اداري د محاکمو د فيصلو د بيا څېړلو کړنلاره)** په لاندې ډول ترتيب شوه.

څنګه چې د تيري فاسدې ادارې قاضيان د بغاتو قاضيان بلل کيږي او د بغاتو له خوا د قاضيانو عزل اونصب کېدلای شي او د فقهاؤ د تصريحاتو مطابق کله چې بغاة په يوه سيمه تسلط حاصل کړي د اهل عدلو قضاة محترمين نه معزوليږي يواځې په هغه صورت کې معزول کيږي چې بغاة يې معزول کړي او پر ځای يې نور قاضيان مقرر کړي نو ګويا د بغاتو له خوا د اهل



Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
ويب سايت: ستره محکمه

عدلو د قاضیانو معزولول او د خپلو قاضیانو نصبول کېدلای شي او کله چې اهل عدل بیرته تسلط حاصل کړي د بغاتو قاضیان په خپله معزول ګرځي[١].

## د هیئت د کړنلارې خلاصه:

**لومړۍ ماده:** د حنفي فقهې د کتابونو د عباراتو څخه واضح معلومیږي چې د بغاتو قضاة قاضیان بلل کیږي، که د تیري ادارې د قاضیانو فیصلې چې تطبیق شوي نه وي، د اسلامي امارت محترمو قاضیانو ته وړاندې شي عارض جانب یا به محکوم له وي د تطبیق غوښتنه به کوي یا به محکوم علیه وي د تیري ادارې د فیصلو د نقض غوښتنه به کوي په دواړه صورتونو کې دې دوسیه په هر ولایت کې د تیري ادارې د فیصلو څیړلو اختصاصي محکمې ته واستول شي[٢].

**دوهمه ماده:** اختصاصي محکمه به وګوري چې د تیري ادارې فیصلې قابل تائید او که قابل نقض دي په دواړه صورتونو کې (که اختصاصي محکمه تائید د سابقه ادارې د فیصلې کوي او که خپله نوي فیصله صادروي) یوازې د فتوی په شکل به دغه

---

[١] أهل البغي إذا غلبوا على بلاد أهل العدل، فالقضاة قضاة على حالهم ما لم يعزلهم الباغي، فإذا عزلوهم خرجوا عن القضاء حتى لو انهزم البغاة بعد ذلك، لا ينفذ قضاؤهم ما لم يقلدهم سلطان أهل العدل ثانياً، لأن الباغي صار سلطاناً بحكم القهر ألا ترى أن تقلد القضاء منه يجوز، فيصح العزل منه. المحيط البرهاني في الفقه النعماني (٨ / ١٦)

وفي العمادية التقلد من أهل البغي يصح وبمجرد استيلاء الباغي لا ينعزل قضاة العدل، ويصح عزل الباغي لهم حتى لو انهزم الباغي بعد ذلك لا ينفذ قضاياهم بعد ذلك ما لم يقلدهم سلطان العدل ثانيا لأن الباغي صار سلطانا بالقهر والغلبة. مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (٢ / ١٥٦)

(قوله ويجوز تقليد القضاء من السلطان العادل والجائر ومن أهل البغي) ؛ لأن الصحابة – رضي الله تعالى عنهم – تقلدوه من معاوية، والحق كان بيد علي – رضي الله تعالى عنهما – في نوبته والتابعين تقلدوه من الحجاج وكان جائرا أفسق أهل زمانه هكذا قال أصحابنا... وأشار المؤلف بصحة التقليد من الجائر عادلا كان القاضي أو باغيا إلى صحة عزل الباغي لقضاة أهل العدل وفي الفصول بمجرد استيلاء الباغي لا تنعزل قضاة العدل، ويصح عزل الباغي لهم حتى لو انهزم الباغي بعده لا تنفذ قضاياهم بعده ما لم يقلدهم سلطان العدل ثانيا إذ الباغي صار سلطانا بالقهر والغلبة اهـ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (٦ / ٢٩٨)

[٢] (قوله ويجوز تقليد القضاء من السلطان العادل والجائر ومن أهل البغي) ؛ لأن الصحابة – رضي الله تعالى عنهم – تقلدوه من معاوية، والحق كان بيد علي – رضي الله تعالى عنهما – في نوبته والتابعين تقلدوه من الحجاج وكان جائرا أفسق أهل زمانه هكذا قال أصحابنا. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ومنحة الخالق وتكملة الطوري (٦ / ٢٩٨)

(القضاء يتقيد ويتخصص بالزمان أو المكان واستثناء بعض الخصومات. درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (٤ / ٥٩٧)المادة (١٨٠١)

تائید او مستقله فیصله نه وي بلکې د قضائي فیصلو د ټولو اصولو په مراعتولو سره به تائید د فیصلې مدلل کوي همدارنګه به خپله مستقله فیصله مدللــه کوي او د جانبینو په مخ کې به ابلاغ د فیصلې کوي(۳).

**دریمه ماده:** د هر تمیز په څنګ کې دې درې تجربه لرونکي او با استعداده علماء کرام مقرر شي هغوی دې د اختصاصي محکمې هره فیصله تر تطبیق مخکې وګوري که یې نقصانات درلودل اختصاصي محکمې ته دې د اصلاح لپاره واستوي او هغه ځایونه د اصلاح دې په یوه یوه ورته ذکر کړي تر څو په اصلاح کولو کې د هغوی لپاره اساني وي که د اختصاصي محکمې لخوا تائید شوې یا نوې او یا مصححه فیصله صحیح وه تائید به کړي د تطبیق د امر ورکولو لپاره دې د مربوطه تمیز عالي ریاست ته واستول شي هم دغه د درې کسه علماء کرامو تائید نهائي فیصله او تجدیدنظر بلل کیږي او بیا ځل قابل د بررسۍ نه ده(٤).

**څلورمه ماده:** که د سیاسي او تعزیراتي موضوعاتو په حق الله برخه کې یو جانب مطالبه داجراء وکړي او محکوم علیه هم بعضي حبس او جزاء تیره کړې وي دغه موضوع ته دې بیا جریان نه ورکول کیږي خاتمه دې ورکړل شي، او په حق العبد برخه کې متضرر شخص کولای شي چې د خپل حق دعوی په مربوطه محکمه کې د اصولو سره سم اقامه کړي البته دا په غیر د هغو کسانو کښې چې د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی تر عمومي عفوې لاندې راغلي وي(٥).

**پنځمه ماده:** که چېرې د سابقه اداري قاضي په فقه حنفي کښې دننه فیصله کړې وه یا یې په دغه نورو درو مذهبونو کې پر یو مذهب باندې فیصله کړې وه، حکم یې په مجموع کې صحیح وو، په اداري نواقصو دې نه ماتوي بلکه د تیرې اداري فیصله دې د نوې فیصلې په اساس مدللــه تائید کړي(٦).

---

(٣) (القضاء يتقيد ويتخصص بالزمان أو المكان واستثناء بعض الخصومات. درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (٤ / ٥٩٧)المادة (١٨٠١)

(٤) (إذا ادعى المحكوم عليه بأن الحكم الذي صدر في حق الدعوى ليس موافقا لأصوله المشروعة وبين جهة عدم موافقته وطلب استئناف الدعوى يحقق الحكم المذكور فإن كان موافقا لأصوله المشروعة يصدق وإلا يستأنف) درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (٤ / ٦٨٦) المادة (١٨٣٨) –

(القضاء يتقيد ويتخصص بالزمان أو المكان واستثناء بعض الخصومات. درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (٤ / ٥٩٧)المادة (١٨٠١)

(٥) وأما الحنفية فقالوا: إن التعزير إذا كان حقاً شخصياً لإنسان، فهو واجب لا عفو فيه؛ لأن حقوق العباد ليس للقاضي إسقاطها، وإن كان حقاً لله تعالى فهو مفوض إلى رأي الإمام: إن ظهر له المصلحة فيه أقامه، وإن ظهر عدم المصلحة، أو علم انزجار الجاني بدونه، يتركه أي أن العفو فيه للإمام.( الفقه الإسلامي، ٧/٥٦٠٣)

(٦)وإذا ولى البغاة قاضيا في مكان غلبوا عليه فقضى ما شاء ثم ظهر أهل العدل فرفعت أقضيته إلى قاضي أهل العدل نفذ منها ما هو عدل، وكذا ما قضاه برأي بعض المجتهدين؛ لأن قضاء القاضي في المجتهدات نافذ وإن كان مخالفا لرأي قاضي العدل. فتح القدير للكمال ابن الهمام (٦ / ١٠٩)

---

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af



پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه ، کابل- افغانستان
تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
ویب سایت: ستره محکمه

شپږمه ماده: د سابقه اداري په کومو دوسيو کي چې مدعي يا مدعی علیه امارت وي باید مربوطه ارکان په رسمي شکل خپل نماینده د دعوې د مخته وړلو لپاره اختصاصي محکمې ته معرفي کړي تر څو اصولي اجراآت پرې وشي[٧].

اوومه ماده: که چیرې د سابقه فاسدي اداري د قاضیانو حکم په یو سبب د اسبابو د حکم بناء وو: لکه اقرار، بینة، حلف، یا نکول اوبل شرعي مانع موجود نه وو، باید تطبیق شی البته باید قاضي پوره متوجه وي چې اقرار، بینة، حلف یا نکول په شرعي طریقه سره دی او که نه، د دعوې سره موافق دی او که نه[٨].

اتمه ماده: په حقوقي تجارتي موضوعاتو کښې که د تاجرانو د عرف معلومولو ته ضرورت پیښ شي، مربوطه مرجع دي د اطاق تجارت څخه د أهل خبره وو په حیث معلومات وغواړي تر هغه وروسته دي اصولي اجراآت (تائید، یا نقض، یا مستقله فیصله) وکړي[٩].

---

وإذا ولى البغاة قاضيا على مكان غلبوا عليه فقضى ما شاء ثم ظهر أهل العدل فرفعت أقضيته إلى قاضي العدل نفذ منها ما هو عدل وكذا ما قضى برأي بعض المجتهدين؛ لأن قضاء القاضي في المجتهدات نافذ وإن كان مخالفا لرأي قاضي العدل. الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (٤ / ٢٦٨):

وإذا غلب أهل البغي على مدينة فاستعملوا عليها قاضيا فقضى بأشياء، ثم ظهر أهل العدل على تلك المدينة فرفعت قضاياه إلى قاضي أهل العدل، فإنه ينفذ منها ما كان عدلا؛ لأنه لو نقضها احتاج إلى إعادة مثلها، والقاضي لا يشتغل بما لا يفيد، ولا ينقض شيئا ليعيده، وكذلك إن قضى بما رآه بعض الفقهاء؛ لأن قضاء القاضي في المجتهدات نافذ فلا ينقض ذلك قاضي أهل العدل من قضايا من تقلد من أهل البغي، وإن كان مخالفا لرأيه. المبسوط للسرخسي (١٠ / ١٣٥)

(٧) ولو كانت الدعوى بين الحكومة السنية و احد افراد الناس فيلزم بمقتضى احكام المضبطة الصادرة من شورى الدولة ان يعين الناظر من دائرة الحكومة الواقع النزاع معها وكيلا مستقيما واقفا على العمل و عارفا بالقانون. شرح قانون المحاكمات الحقوقية لسليم بن رستم باز ص:٨٧ شرح المادة ٤١.

أمر السلطان إنما ينفذ إذا وافق الشرع وإلا فلا. (قوله: أمر السلطان إنما ينفذ) أي يتبع ولا تجوز مخالفته. الدر المختار و رد المحتار (٥ / ٤٢٢).

(٨) وإذا ولى البغاة قاضيا في مكان غلبوا عليه فقضى ما شاء ثم ظهر أهل العدل فرفعت أقضيته إلى قاضي أهل العدل نفذ منها ما هو عدل، وكذا ما قضاه برأي بعض المجتهدين؛ لأن قضاء القاضي في المجتهدات نافذ وإن كان مخالفا لرأي قاضي العدل. فتح القدير للكمال ابن الهمام (١٠٩/٦)

(إذا ادعى المحكوم عليه بأن الحكم الذي صدر في حق الدعوى ليس موافقا لأصوله المشروعة وبين جهة عدم موافقته وطلب استئناف الدعوى يحقق الحكم المذكور فإن كان موافقا لأصوله المشروعة يصدق وإلا يستأنف) درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (٤ / ٦٨٦) المادة (١٨٣٨) –

(القضاء يتقيد ويتخصص بالزمان أو المكان واستثناء بعض الخصومات. درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (٤ / ٥٩٧)المادة (١٨٠١)

(٩) فإن أشكل يرجع إلى أهل الخبرة. الفتاوى الهندية (٤ / ٨٥).

---

**نهمه ماده:** د تیري اداري غیر تطبیق شده فیصلې چې تر فتحې وروسته په ولایتونو کې د اختصاصي محکمې لخوا تائید یا نقض شوې وي او یا یې په اړه لخوا قرار یا فیصله صادره شوې وي او د دغه طرزالعمل د تائید څخه مخکې نه وي تطبیق شوي، د مربوطه تمیز په څنګ کې درې کسه علماء کرامو ته دې د کتنې لپاره وړاندې شي تر څو معلومه شي چې یاده فیصله قابل تطبیق ده یا نه؟ (١٠).

**لسمه ماده:** دغه د تیري اداري د فیصلو د بیا څېړلو اختصاصیه محکمو طرزالعمل د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام تر تائید وروسته قابل عمل دی[١١].

د افغانستان اسلامي امارت
د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی دفتر
د دفتر ریاست
د صادرې شمېره: ۷۰۲ نېټه: ۱۱/۲۴/ ۱۴۴۵ هق

(وهوالموفق)

شماره حکم: ۵۷۸۲
تاریخ: ۱۴۴۵-۱۱-۲۶
تاریخ: ۱۴۰۳-۳-۱۵

د تیري اداري د محاکمو د فیصلو د بیا څېړلو کړنلاره په لسو مادو کې توشیح او د انفاذ وړ ده.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د دفتر ریاست
د حکامو او فرامینو د ثبت آمریت

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث
مولوي هبة الله اخندزاده

ذوالقعدة الحرام ۲۶ ۱۴۴۵ هق

---

فإن أشكل يرجع إلى أهل الخبرة. (يرجع إلى أهل الخبرة) أي يسأل القاضي أهل العلم عن ذلك: يعني العدول منهم ويبني حكمه على قولهم (لأنهم أعرف به) قال الله تعالى: {فاسألوا أهل الذكر إن كنتم لا تعلمون} [النحل: ٤٣]. الهداية مع فتح القدير للكمال ابن الهمام (٨ / ٢٧١):

وإذا ولى البغاة قاضيا في مكان غلبوا عليه فقضى ما شاء ثم ظهر أهل العدل فرفعت أقضيته إلى قاضي أهل العدل نفذ منها ما هو عدل، وكذا ما قضاه برأي بعض المجتهدين؛ لأن قضاء القاضي في المجتهدات نافذ وإن كان مخالفا لرأي قاضي العدل. فتح القدير للكمال ابن الهمام (٦ / ١٠٩)

(١٠) إذا ادعى المحكوم عليه بأن الحكم الذي صدر في حق الدعوى ليس موافقا لأصوله المشروعة وبين جهة عدم موافقته وطلب استئناف الدعوى يحقق الحكم المذكور فإن كان موافقا لأصوله المشروعة يصدق وإلا يستأنف) درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (٤ / ٦٨٦) المادة (١٨٣٨) –

(القضاء يتقيد ويتخصص بالزمان أو المكان واستثناء بعض الخصومات. درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (٤ / ٥٩٧)المادة (١٨٠١)

(١١) أمر السلطان إنما ينفذ إذا وافق الشرع وإلا فلا. (قوله: أمر السلطان إنما ينفذ) أي يتبع ولا تجوز مخالفته. الدر المختار و رد المحتار (٥ / ٤٢٢).



Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامي څلور لاری، نهمه ناحیه ، کابل- افغانستان
تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
ویب سایت: ستره محکمه